مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله اریزی ۲۰۲۳/۰۸/۲۵

# نړیوالې ټولنې

## ۷۶ برخه

سیمه ییزه ټولنې

اروپا

**پنځم څپرکی**

**سیمه ییزه ټولنې**

**آسیايي ټولنې:**

**- د اقتصادي همکاریو ټولنه Economic Cooperation Organization (ECO)**

د اقتصادي همکاریو ټولنه، په کال ۱۹۸۵ کې د ایران، پاکستان او ترکیې تر منځ د اقتصادي، تخنیکي او کلتوري پرمختګ، سیمه ییزې پراختیا او د خلکو د هوساینې له پاره جوړه او د هغه ټولنې ځای ونیو چې همدې دریو هېوادونو په ۱۹۶۴ کې، د سیمه ییزې پراختیا ټولنې Regional Cooperation for Development یا RCD په نامه، په استانبول کې جوړه کړې وه.

RCD په خپل وخت کې د دې هېوادونو د سیمه ییزې پراختیا او د سولې او ثبات په برخه کې، په سیمه ییزه همکارۍ ټینګار کاوه .[1]

تاریخي، فرهنګي، جغرافیايي، مذهبي او اقتصادي ګټې او اړیکې، د RCD د جوړېدو له اصلي عواملو څخه بالا شی. RCD په ۱۹۶۴ – ۱۹۷۹ کلونو کې فعاله وه؛ خو په خپلو دندو کې د لږ بریالیتوب له امله، هغه هیلو ته ونه رسېده چې په لومړي سر کې په پام نیول شوې وې. په ایران کې د اسلامي انقلاب بریې دا ټولنه له رکود سره مخامخ کړه او ورو – ورو ړنګه شوه. کتابونه لیکي سره له دې چې RCD له منځه لاړه؛ خو ایران، ترکیې او پاکستان په یو دول نه، یو دوله له یو بل سره اړیکې پاللې. دې اړیکو په کال ۱۹۸۵ کې د ECO جوړېدو ته لار پرانسته.[2]

د ECO د جوړېدو په درشل کې دې پراخه سیمې دا ځانګړتیاوې درلودې:

- له لویو هېوادونو هند، روسیې او چین سره ګاونډیتوب،
- له اروپا او فارس (عربي) خلیج سره ګډې پولې،
- د فارس (عربي) خلیج او هند سمندر، تور سمندرګي او مدیترانې اوبو ته لاسرسی،
- طبیعي شتمنئ لکه تېل او ګاز،
- ۷۰۰۰۰۰۰ کیلومتر مربع پراخه خاوره،
- ۹۵%مسلمان ولسونه،
- ډېر مهم جغرافیايي موقعیتونه،

د ECO د غړو تر منځ اړیکي، په لومړي سر کې د بهرنیو چارو د مرستیالو وزیرانو په کچه وې؛ خو په کال ۱۹۷۶ کې دا اړیکې د بهرنیو چارو وزیرانو ته لوړې شوې.

غړیتوب: د ECO لومړي درې غړي هېوادونه درلودل؛ خو وروسته دا شمېر لوړ شو. د ازمیر( ترکیه) تړون د ۳۶ مادې له مخې، د سیمې هر هېواد د غړیتوب غوښتنلیک، د دارالانشا له لارې د ECO وزیرانو شورۍ ته استوي. د هر نوی غړې منل د آراوو اتفاق غواړي. اوس دا هېوادونه د ECO غړي دي: افغانستان، ایران، آذربایجان، ترکمنستان، پاکستان، قرغزستان، قزاقستان، تاجکستان، ازبکستان او ترکیه.[3]

اهداف: د ازمیر غونډې (۱۹۷۷) د ECO له پاره دا اهداف په پام کې ونیول چې د دې ټولنې په اساسنامه کې مسجل شوي دي:

- د غړو هېوادونو پرله پسې اقتصادي پرمختیا او پراختیا،
- یو د بل د بازارونو په مرسته، د سوداګرۍ پراختیا او پرمختیا،
- د نړیوالې سوداګرۍ له هڅونې سره مرسته، یو د بل بازارونو ته آسانه لاسرسی، د نړۍ له اقتصاد سره د غړو هېوادونو د اقتصادونو تدریجي نښلول، د پرله پسې اقتصادي پرمختیا او د خلکو د ژوندانه د ښه کولو له پاره، د غړو هېوادونو تر منځ د مناسبو شرایطو هڅول،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

- د وروروګلويزه او معنوي اړيکو او فرهنګي پيوستون پياوړتيا، چي د دې پراخه سيمې خلک، په ټولنيزه او فرهنګي لارو سره تړي،
- د لويو لارو او ترانسپورتي بنسټونو د پراختيا په مرسته، له نوري نړۍ او يو بل سره د ECO غړو هېوادونو پيوستون،
- د اقتصاد ليبرال کول،
- له نورو سيمه ييزه او نړيوالو ټولنو سره روغي دوه اړخيزه اړيکي .[4]

ECO خپل دا کارونه د ۷ کميټو له لارې، د سرمنشي او د هغه مرستيالانو په مشرتابه سر ته رسوي. سوداګري او پانګونه؛ وړل – راوړل او اړيکي؛ انرژي، کانونه او ژوند چاپيرياڵ؛ کرنه، صنعت او سيلانيان؛ بشري سرچيني او اوږد مهاله پرمختګ؛ احصائيه او اقتصادي او پروژوي څېړني او نړيوالي اړيکي .[5]

د ECO غونډې: د ECO په لومړنۍ سرمشريزه غونډه کې چي په کال ۱۹۹۲ کې، په تهران (ايران) کې جوړه شوه، د نويو هېوادونو د غړيتوب د منلو تر څنګ دا پريکړې هم وشوې:

- د ECO پراختيا او پرمختيا،
- د جمو او کشمير د خلکو د حقونو دفاع،
- د افغانستان د کورنۍ جګړې، د پای ته رسولو سياسي حللار.
- غړو هېوادونو تر منځ د سوداګرۍ اسانتياوې،
- د کرني، انرژي، صنايعو او ترانسپورت پراختيا.
- د غړو هېوادونو د بهرني سياستونو همغږي کول،
- د غړو هېوادونو د دفاعي سياستونو همغږي کول،
- اقتصادي همکاري،
- د غړو تر منځ د ګډ بازار جوړول،
- په صنعتي چارو کې همغږي،
- په ټولنيزو او فرهنګي چارو کې همکاري.[6]

دويمه سرمشريزه په کال ۱۹۹۳ کې د ۱۰ غړو په ګډون په استانبول (ترکيه) کې وشوه .د سوداګرۍ، انرژي، کرني، سيلانيانو او چاپيرياڵ ساتني پراختيا او همدا راز د غړو هېوادونو له خوا، د اسلامي بانک د جوړېدو ملاتړ او له نورو ټولنو سره د نږدې اړيکو ټينګول؛ د دې غونډې د بحث مهم موضوعات وو.

د ECO دريېمه غونډه په کال ۱۹۹۳ په اسلام آباد (پاکستان) کې جوړه او په لاندې موضوعاتو هوکړه وشوه:

- په ترکيه کې د سوداګرۍ او پراختيا بانک پرانيستل،
- د ECO بيمي جوړول،
- د سوداګريزه ترانزيت تړون لاسليک،
- د ECO د فرهنګي او علمي څانګو جوړول،
- د ملګرو ملتونو د پراختيا (UNDP) او د نشه يي توکو د مخنيوي (UNCDP) ټولنو سره د تړونونو لاسليک،
- د غړو هېوادونو تر منځ د ويزې آسانتيا.

د ECO څلورمه غونډه په کال ۱۹۹۶ کې په اشک آباد (ترکمنستان) کې جوړه شوه.

د ECO په پنځه غونډه کې، چي په کال ۱۹۹۸ کې په الماتا (قزاقستان) کې وشوه، د ECO د بنوونيزې موسسې کړنلاره تصويب او لاسليک کړه.

د ECO شپږمه غونډه په کال ۲۰۰۰ کې، په تهران (ايران) کې وشوه. په دې غونډه کې غړو هېوادونو يو ځل بيا په خپلو کې په اقتصادي، علمي، کلتوري او سياسي همکاريو ټينګار وکړ.

د ECO اوومه غونډه په کال ۲۰۰۴ کې، په دوشنبه (تاجکستان) کې جوړه شوه چي د ECO د ازادې سوداګرۍ د سيمې د جوړولو هوکړه پکې لاسليک شوه.

د ECO اتمه غونډه په کال ۲۰۰۶ کې، په باکو (آذربايجان) کې جوړه او په بېلابېلو برخو کې په همکاريو ټينګار وشو.

جوړښت: ECO د (ازمير تړون) له مخې د وزيرانو شورى، د دايمي استازو شورى، د سيمه ييزه پروګرام جوړولو شورى، دارالانشا او ۷ تخصصي کمېټې لري.

د وزيرانو شورى: د غړو هېوادونو د بهرنيو چارو د وزيرانو شورى، چي په کال کې يو ځل په يو هېواد کې غونډه کوي. د بهرنيو چارو له وزيرانو څخه پرته، نور وزيران هم په دې غونډو کې برخه اخستلای شي. د ECO په کورني جوړښت او د کورنيو دندو په اصولو، په لويو تګلارو او پريکړو بحث او د نويو غړو منل د وزيرانو شورى له واکونو څخه دي.

دايمي استازو شورى: د غړو هېوادونو د بهرنيو چارو د وزارتونو لوړپوړي چارواکي او په تهران کې د ECO هېوادونو سفيران، د دې شورى غړي دي چي د ECO د دايمي ارګان په توګه، د وزيرانو شورى د غونډو تر منځ، د ټولني تګلارې تطبيقوي، کړنلارې او سياستونه ټاکي، د وزيرانو شورى د پريکړو د تطبيقو مسووليت په غاړه لري او په تهران کې ورځني چارې مخ ته وړي.

د دايمي استازو شورى مشري، په انګليسي ترتيب سره، ۶ مياشتي په نوبت هر هغه غړي هېواد ته سپارل کېږي چي په تهران کې ديپلوماتيکه حضور لري.[7]


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په څير و لولئ

د سیمه ییز پروګرام جوړوني شوری: دا شوری د غړو هېوادونو د پلان جوړوني د ادارتو د مشرانو، یا واکمنو استازو څخه جوړه ده او د غړو هېوادونو د عملي پروګرامونو، عمراني طرحو او تولیدي چارو د کتنې (ارزیابي) مسوولیت په غاړه لري. د سیمه ییزې پروګرام جوړوني شورى د غړو هېوادونو ګډو طرحو، اوږدمهاله ټرونونو او د عمراني پروګرامونو د همغږی په برخه کې، راپورونه لیکي او د پرېکړو له پاره یې د وزیرانو شورى ته استوي.
تخصصي کمېټې: دا کمېټې چې د غړو هېوادونو له استازو جوړې دي، دنده لري چې ECO هېوادونه د کارونو پرمختګ نظر وساتی. RCD په لومړي سر کې ۱۷ کمېټې درلودې؛ خو د ECO په وخت کې دا شمېر ۸ ته کم شو:

- اقتصادي او سوداګریزه همکاریو کمېټه،
- د صنعتي او فني همکاریو کمېټه،
- د ورولو او راوړلو او اړیکو کمېټه،
- د کرنیزه چارو کمېټه،
- د زده کړو او علمي او فرهنګي چارو کمېټه،
- د انرژئ کمېټه،
- د بنسټیزه چارو (لکه روغتیا او ژوند چاپېریال) کمېټه،
- له نشه یي توکو سره د مبارزې کمېټه.

دارالانشا: دارالانشا د غړو هېوادونو د بېلابېلو بنسټونو تر منځ اړیکي جوړوي ECO . یو سرمنشي او یو شمېر اداري کارکوونکي لري. پخوا د ECO سرمنشي د دریو بنسټ اېښودونکو هېوادونو (ایران، ترکیه او پاکستان) له خوا پيژندل کیده دنده کېده چې د وزیرانو شوری به د ۴ کلونو له پاره ومانه؛ خو په کال ۲۰۰۰ کې پرېکړه وشوه چې نور هېوادونه هم باید فعال شي او د الفبا په ترتیب د ECO مشرتابه د دوو کلونو له پاره په غاړه واخل.[8]

تخصصي بنسټونه:
الف – فرهنګي ټولنه: د ECO د فرهنګي ټولني مرکز په تهران (ایران) کې دی. دا ټولنه په سیمه کې د خلکو په ډېر ګډون (مشارکت) او همکارئ کار کوي او هغه پوهان، روڼ اندي، د هنر خاوندان او نور کسان ګډ کار او زیار ته بولي چې په یو ډول نه، یو ډول د سیمې د ګډ میراث په ساتلو او سپړلو بوخت دی.
ب – علمي بنسټ: دا بنسټ په اسلام آباد (پاکستان) کې دی او په دې کارونو لګیا دي: د متخصصو او مسلکي کادرونو روزنه، د څېړنیزو موسساتو د علمي ورتیاوو جګول، ټکنالوژي او پرمختایي هېوادونو ته د هغوی د لېږد آسانتیاوې، د علمي اطلاعاتو تبادله او داسي نور.
ج – د زده کړو موسسه: د ECO د زده کړو موسسه په انقره (ترکیه) کې ده او غواړي چې یو د بل پوهنتونونو ته د استادانو او محصلینو د استولو، یو بل ته د څېړنیزو او فرهنګي بورسونو د ورکولو او د ګډو تعلیمي موسسو او پوهنتونونو د جوړولو په برخه کې مرسته وکړي.
سیمه ییز موسسات: د اقتصادي پرمختیا له پاره د ECO بنسټیزه موسسي دا دي:
د ECO د سوداګرئ او صنایعو خونه، د بېړی چلوني ګډ شرکت، د ECO ملکي هوایي چلند، د ECO د لوړو زده کړو موسسه، د ECO بیمه، د ECO فرهنګي موسسه، د ECO د پانګوني او سوداګرئ بانک او د ECO ځوانانو بنسټ چې هر کال خپل کاري راپورونه د ECO دارالانشا ته استوي.
مقر: د ECO اصلي دفتر په تهران (ایران) کې دی.
ECO او افغانستان: افغانستان په کال ۱۹۹۲کی د ECO غړیتوب ترلاسه کړی دی.

---

[1] نړیوال سازمانونه، محمد جعفرهاند، ص۱۴۲
[2] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ص ۲۶۸ – ۲۶۹.
[3] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ، ص۲۷۲
[4] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری،، ص ۳۵۱-۳۵۰
[5] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ، ص ۲۶۹-۲۶۸
[6] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص۲۲۵
[7] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۳۵۳
[8] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ۲۷۱-۲۷۰


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ